د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د شرعي هجرت او معاصرې کډوالۍ پرتله معنی او مفهوم، مشابهتونه او توپیرونه

# A Comparative Study of Shar‘i Hijrah and Contemporary Migration: Meaning, Concept, Similarities, Differences, Outcomes, and Impacts

پوهنمل ډاکتر فصیح الله عبدالباقي[1]، ابوبکر مدقق[2] او شکرالله مخلص[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n5.2025

ISSN: 3078-9583 (Online)   ISSN: 3078-9575 (Print)
از صفحه ۷۶ تا ۹۱   تعداد صفحات: ۱۶   تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸

## د څېړنې لنډیز

د "شرعي هجرت" او "معاصرو هجرتونو او کډوالیو" ترمنځ پرتله، له دیني، تاریخي، ټولنیز او حقوقي اړخونو له پلوه یوه ارزښتناکه او مهمه څېړنه ده. دا څېړنه د توصیفي ـ تحلیلي مېتود پر بنسټ تر سره شوې ده، چې د اسلامي او لغوي منابعو په رڼا کې د هجرت معنا او مفهوم بیانوي، تاریخي واقعیتونو ته اشاره کوي، او د معاصرو کډوالیو بېلابېلې بڼې او ډولونه روښانه کوي او ځېنط حقوقي اړخونو ته یې اشاره کوي.

په څېړنه کې د "هجرت" اصطلاح د اسلامي فقهې له مخې داسې تعریف شوې چې د ظلم، فتنې او په دین له آزادانه عمل څخه د مخنیوي په صورت کې، مسلمان له خپل ټاټوبي څخه بل ځای ته انتقالېږي. او "کډوالي" او "مهاجرت" د معاصرو حقوقي اعتبارونو له مخې هغه پروسه ده چې د اقتصادي، ټولنیزو، امنیتي یا طبیعي عواملو له امله له یوه ځای څخه بل ځای ته د انسان د موقتي یا دوامدار انتقال سبب ګرځي.

همداراز په لیکنه ورته اصطلاحات لکه " پناه غوښتنه "، "جبري مهاجرت"، "مؤقته" او "دایمي مهاجرتونه" هم د نړیوالو تعریفونو له اړخه تحلیل شوي، تر څو د معاصرو کډوالیو ټول اړخونه لا ښه وپېژندل شي، او د شرعي هجرت او معاصرو کډوالیو ترمنځ مفهومي، ارزښتي او حقوقي توپیرونه او مشابهتونه روښانه شي.

دا څېړنه هڅه کوي وښيي چې، که څه هم دا دواړه پدیدې په ظاهري توګه سره ورته ښکاري، خو د اهدافو، شرایطو، حقوقي پایلو او انساني حیثیت له پلوه له یو بل څخه جلا او ځانګړي واقعیتونه لري.

**کلیدي کلیمې: شرعي هجرت، معاصرې کډوالۍ، مشابهتونه او توپیرونه، مفهوم**

[1] د سلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی استاذ. Fasih.1392@gmail.com
[2] دسلام پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي استاذ. a.mudaqiq21@gmail.com
[3] د تفسیر او حدیث د ماسټرۍ ښوونکی او د پوهنتون د ماسټرۍ بورډ رییس. +93 78 788 4612، skukrullah2@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد

The use of the journal’s articles is permitted provided that the author’s name and the source are properly cited.

## د څېړنې ارزښت

د "شرعي هجرت" او "معاصرې کډوالۍ او هجرتونو" مفاهيم وړاندې کول او ترمنځ يې پرتله کول يو خورا مهمه موضوع ده چې پر ټولنپوهنې، سياست، او اقتصادي ډګرونو پراخه اغېزې لري. د دې څېړنې ارزښت د دې حقيقت څخه راڅرګندېږي چې د نړۍ په کچه د مهاجرتونو او کډوالۍ پديدې بېلابېل بُعدونه لري چې د انسانانو پر فردي، ټولنيزو، اخلاقي او اقتصادي بعدونو ژورې اغېزې پرېږدي.

همداراز، دا څېړنه د معاصرې نړۍ د ټولنيزو ګواښونو، په ځانګړې ډول د کډوالو د ستونزو د درک او حل لپاره ارزښتناکه ده.

### د څېړنې موخې

د "هجرت" او "معاصرې کډوالۍ او هجرتونو" بېلا بېلاې معناګانې څېړل او ترمنځ يې پرتله کول څو اړخيزې موخې لري چې په لنډ ډول ويلی شو، دا څېړنه هڅه کوي له يوه پلوه د شرعي هجرت او معاصرو کډواليو ترمنځ د مفهومي، تاريخي، ديني او حقوقي توپيرونو په روښانه کولو سره علمي پوهه زياته کړي، او له بلې خوا د معاصرو هجرتونو بېلابېل ډولونه د درنو لوستونکو مخې ته کېږدي تر څو د مهاجرتي ستونزو د حل لپاره عامه پوهاوی رامنځته شي.

### د څېړنې کړنلاره:

له دې چې ياده موضوع کتابتوني او عام معلوماتي دواړه اړخونه لري له دی امله يوه برخه يې له کتابونو، وثايقو او نړيوالو کنوانسيونو څخه په استفادې، په توصيفي او تحليلي بڼه آماده شوی ده.

### لومړی مطلب

### د هجرت شرعي معنی او مفهوم

هجرت په لغت کې:

هجرت د (هـ ج ر) له مادې څخه اخيستل شوی کلمه ده چې په عمومي ډول په دوه معناګانو استعمال شوی ده:

- پرېښودل
- مخ اړول

(پرېښودل/ مخ اړول)په دې اړوند عربان وايي: هَجَرَه يَهْجُرُه هَجْرًا، د (هاء) په زور او زير سره استعمال شوی ( هَجرا ، هِجْرانًا)، هَجْر: د وصل ضد دی[4]. او هَجَرَ يَهْجُرُ هَجْرًا: پرېښودل او مخ اړول.[5] دا معنی په قرآنکريم کې په ګڼو ځايونو کې راغلې ده، لکه الله تعالی چې فرمايي: {وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا}[6] او فرمايي: {وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ}[7] ، او په بل ځای کې فرمايي:{وَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا}[8].

امام فخرالدين رازی د هجرت په اړه داسې وايي:هاجروا: يعنی خپل وطنونه او قبيلې يې پرېښودی. هغه زياتوي:دا کلمه اصلاً له هَجْر څخه اخيستل شوې ده چې د وصل ضد ده، له همدې امله بدو خبرو ته هُجْرٌ ويل کېږي؛ ځکه چې هغه بايد

[4].وګوره: لسان العرب (250/5)، مادة (هجر)

[5].وګوره: تاج العروس من جواهر القاموس، د علامه زبيدي کتاب؛ مادة: (ه ج ر)، 396/14.

[6]. [الفرقان: 30]

[7]. [المدثر: 5]

[8]. [المزمل: 10]

پرېښودل شي، او«هاجِرة» هغه وخت دی چې کار په کې پرېښودل کيږي. نو مهاجرت: د هجرت څخه اخيستل شوې کلمه ده، او مطلب يې دا دی چې مهاجر په هجرت کې خپل دوستان او خپلوان د دين په خاطر پرېږدي ، او له هغوی څخه مخ اړوي.[9]

د هجرت ځانګړې معنی دا ده چې يو څوک له يو هيواد څخه بل هيواد ته يا له يوې ځمکې څخه بلې ځمکې ته ولاړ شي. په لسان العرب کې راغلي: «الهِجْرَة والهُجْرَة: له يوې ځمکې څخه بلې ځمکې ته تلل.»[10] د قرآن کريم دا آيت په همدی معنی دلالت کوي {قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا}[11] .

**د هجرت شرعي معنی**

علماو د هجرت ګڼ تعريفونه او تقسيمونه کړی دي چې په لنډ ډول ورته اشاره کوو .

د هجرت يو تعريف داسې شوی دی:« الهجرة هو الانتقال من دار الكفر إلى دارالإسلام»[12] يعنې «هجرت له دار الکفر څخه دار الاسلام ته منتقل کيدل».

د دې هجرت تر ټولو سترمثال له مکې مکرمې څخه، مدينې منورې ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم هجرت دی، چې د قرآن کريم په ګڼو آيتونو کې ورته اشاره شوی ده، لکه الله تعالی فرمايي: {لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ}{وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ}[13] په بل ځای کې فرمايي: {فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ}[14]

نوموړې هجرت د اسلامي تاريخ يوه ډېره ستره او مهمه واقعه بلل کيږي، چې هغه يوازې يو جغرافيايي حرکت نه و، بلکې د ديني، ټولنيز او سياسي اړخونو له مخې هم ځانګړی مفهوم او پراخه اغېزې درلودلې چې ځينې تفصيلات به يې په دی ليکنه کې راشي . د همدی هجرت له لارې، مسلمانان د مشرکينو د ظلم او استبداد څخه خلاص شول او د يوې نوې ټولنې د جوړولو او تاسيس لپاره بنسټ شو .

حقيقت دا دی چې د هجرتونو دا لړۍ د قرآن کريم د آيتونو په رڼا کې د انبياء عليهم السلام دعوتونو لپاره يوه ستره قاعده او اصل ښودل شوی ده. ډېری پيغمبران له هجرتونو سره مخ شوی دي، لکه چې قرآن ورته اشاره کوي: {وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا}[15]، همدا راز ورقه بن نوفل رسول الله ﷺ ته د دعوت په لومړيو کې داسې ويلی و: "دا هماغه پرښته ده چې الله تعالی د موسی عليه السلام پر لور را لېږلی وه، کاشکې زه ځوان وم، کاشکې زه ژوندی وم چې کله ستا قوم تا له دی ټاټوبې اوباسي."[16] رسول الله ﷺ وويل: "آيا هغوی به ما وباسي؟" ورقه وويل: "هو، هيڅ پيغمبر چې د داسې پيغام سره چې تا راوړی دی، نه دی راغلی مګر دا چې له هغه سره دښمني شوی ده.

---

[9]. مفاتيح الغيب د امام فخرالدين رازي تفسير394/6 .

[10]. لسان العرب، د ابن منظور محمد بن مکرم کتاب مادة (ه ج ر)، 4617/5.

[11]. [النساء: 97]

[12]. التعريفات للجرجاني ص . 256 ، الموسوعة الفقهية الكويتية،177/42.

[13]. [الحشر: 8،9]

[14]. [آل عمران: 195].

[15]. ابراهيم: 13

[16]. صحيح بخاري حديث شمېره(3)، صحيح مسلم د حديث شمېره (160)

ابراهیم علیه السلام د نمرودي ظلم په نتیجه کې فلسطین ته په هجرت کولو مجبور کړای شو. الله تعالی په دی اړه فرمایي: {قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنتُمْ فَاعِلِينَ، قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ، وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ}[17].

حضرت لوط علیه السلام چې کله د خپل قوم په ناوړه عملونو باندی نیوکه وکړه او وی فرمایل: {أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ}[18]نو هغوی په هجرت کولو تهدید کړ: {قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ}[19]

همدا ډول حضرت شعیب علیه السلام هم د خپل قوم له خوا د خپل ټاټوبی څخه په ویستلو تهدید شو{قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا}[20]

د حضرت موسی علیه السلام د هجرتونو په اړه خو قرآن کریم په خورا تفصیل سره بیان کړی دی د بېلګې په ډول: {وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَى}[21]

دا هجرتونه او تبعیدونه د تاریخ په اوږدو کې د ظالمانو او طواغیتو یوه مشترکه وسیله ده چې تل یې انبیاء علیهم السلام او د هغوی په تعقیب صالحین او اولیاءالله ورباندی تهدید کړي دي.

**دهجرت ډولونه**

په ټوله کې هجرت په دوه ډوله دي: ۱- معنوي هجرت ۲- حسي هجرت

**معنوي هجرت**

دا هجرت له کفر څخه اسلام ته، له بدعت څخه سنت ته، له شرک څخه توحید ته، او له معصیت څخه اطاعت او له بدی څخه نېکی ته تر سره کیږي

په حدیث شریف کې راغلي دي: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ»[22]

یعني:مسلمان هغه څوک دی چې مسلمانان د هغه له ژبې او لاسه په امن کې وي، او مهاجر هغه دی چې هغه څه پریږدي چې الله ترې منع کړی ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله وایي: الهجرة (ترك ما نهى الله عنه)[23] هجرت یعني هغه څه پرېښودل چې الله سبحانه وتعالی منع کړي دي..

**حسي هجرت**

حسي هجرت څلور ډوله دی:

1. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لور هجرت (مدینې ته هجرت)

[17]. الانبیاء: 68-71

[18]. الشعراء: 165-166

[19]. الشعراء: 167

[20]. الأعراف: 88

[21]. طه: 77-79

[22]. صحیح البخاري د حدیث شمېره :۶۱۱۹

[23] . الفتح(1/16)

2. د کفر له سیمې د اسلام سیمې ته هجرت
3. د بدۍ او گناه له سیمې څخه د نیکۍ سیمې او له بد وضعیت څخه ښه وضعیت ته هجرت.

هغه مبارک حدیث په دی ډول هجرت څرګند دلالت کوي په کوم کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخکنیو قومونو څخه د یو وګړي قصه ذکر کړی ده، چې ۹۹ تنه یې وژلي وو او د توبې په لټه کې و، یوه عالم هغه ته توصیه وکړه چې ستا او د توبې ترمنځ هیڅ شی مانع نشته البته شرط دا دی چې د بدۍ او ګناه له سیمې څخه د نېکېو سیمې ته هجرت وکړی...[24]

4. د وروستیو زمانو فتنو په وخت کې د شام لور ته هجرت[25]

**دویم مطلب**

**هجرت(Migration) او کډوالي په معاصر سیاق کې**

مهاجرت یا کډوالي هغه عمل ته ویل کېږي چې یو شخص له خپل اصلي هېواده بل هېواد ته دایمي یا موقتي استوګنې لپاره انتقال کوي. دا بهیر کولای شي بېلابېل لاملونه ولري، لکه کار، زده‌کړه، پناه غوښتنه یا له کورنۍ سره یوځای کېدل او داسي نور[26].

یا هغه حالت دی چې یو فرد یا یوه ډله د خپل اصلي هیواد څخه د تاوتریخوالي، جګړو، ډار، ځورونې یا نورو ګواښونو له امله اړ شي چې بل هیواد ته پناه یوسي. په دې حالت کې، کډوال د امنیت، حقونو او ژوند د خوندي کولو لپاره د بل هیواد په حدودو کې ژوند کوي. کډوالي یوازې یوجغرافیایي خوځښت نه، بلکې د انساني حقونو، نړیوالو قوانینو او سیاسي پېچلتیاوو پورې تړلې موضوع ده، نړیوال قوانین[27] لکه د 1951 زیږدیز کال د پناهندګۍ کنوانسیون او د هغې اړوند پروتوکول، د پناه غوښتتونکو، حقونه او د هغوی د ساتنې لپاره اصول او قوانین ټاکي.

**دکډوالي یا پناهندګی قانوني چوکاټونه**

کډوالي د ځانګریو قوانینو له مخې تنظیمېږي، اړوند اداري هغه قواعد او اصول ټاکي چې د هیوادونو تر منځ د خلکو د خوځښت لپاره اړین وي، که هغه د هیواد د ښاریانو لپاره وي چې له خپل دولت څخه بهر ته تلل غواړي، یا د هغو خارجي اتباعو

---

[24].د قصې د تفصیل لپاره وګورئ: صحیح مسلم 2118/4.

[25]. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «سَتَكُونُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ، فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ أَلْزَمُهُمْ مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيمَ، وَيَبْقَى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا، تَلْفِظُهُمْ أَرْضُوهُمْ، تَقْذَرُهُمْ نَفْسُ اللَّهِ، وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ» رواه أبو داود وصححه الألباني.

[26]. د کیمبریج انګلیسي لغتنامه Emigration :(کډوال کېدل)

[27]. په لاندې ډول ځینې نړیوال تړونونه شتون لري چې مهاجرینو ته قانوني خوندي توب ورکوي لکه:

- د ټولو ډولونو د نژادي تبعیض له منځه وړلو نړیوال تړون.
- د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون.
- د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو نړیوال تړون.
- د شکنجې او نورو ظلمونو یا غیر انساني او توهین کوونکو چلندونو پر وړاندې د مبارزې تړون.
- د نړیوال کار سازمان تړونونه چې د کارګرو او مهاجر کارګرو حقوق ساتي.
- هغه دوه پروتوکولونه چې د نړیوالي جرمي جرمونو پر وړاندې د تړون سره تړاو لري، چې د انسانانو د قاچاق او د هغوی د تښتولو پر ضد دي.
- د بې تابعیت کسانو د تړون حکمونه، چې په ۱۹۵۴ کال کې تصویب شو.
- د ۱۹۶۱ کال د بې تابعیتۍ د تړون.
- د مهاجر کارګرو او د هغوی د کورنیو حقوقو تړون، چې په ۱۹۹۰ کال کې تصویب شو او په ۲۰۰۳ کال کې نافذ شو.

لپاره وي چې غواړي په یوه بل هېواد کې ژوند وکړي...

د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې ۱۳مه ماده کې داسې راغلې ده: هر فرد ته دا حق ورکول کیږي چې یو هېواد پرېږدي، همدارنګه هغه هېواد ته بېرته د راستنېدو حق هم لري.

**د معاصر مهاجرت(Migration) او کډوالۍ اړوند اصطلاحات**

1. راتګ:(Immigration)

دا هغه ډول مهاجرت دی چې پکې یو وګړی له بل هېواد څخه د لنډ یا اوږدمهاله استوګنې لپاره د یوه هېواد خاورې ته داخلیږي. دا کار معمولاً د کار، زده‌کړې، پناه غوښتنې یا د کورنۍ سره د یو ځای کېدو له امله ترسره کېږي[28] .

2. وتل یا هجرت:(Emigration)

امېګریشن هغه بهیر ته ویل کېږي چې یو وګړي له خپل اصلي هېواد څخه بل هېواد ته کډه کوي. [29] دا اصطلاح په ګڼ شمېر نړیوالو اسنادو کې کارول شوې، او ډېری وخت د مهاجرت له زاویې د مبدأ هېواد (د کډوالۍ ځای) د لید څخه کارېږي.

3. وطن پرېښودل یا د تابعیت پرېښودل:(Expatriation)

دا اصطلاح د یوه وګړي لهخوا د خپل هېواد تابعیت پرېښودو یا له لاسه ورکولو په معنی ده. د افغانستان د تابعیت قانون د دریيمې مادې په څلورم بند کې هم دې موضوع ته اشاره شوې ده. [30]باید وویل شي چې د نړیوالو قوانینو له مخې، د تابعیت جبري سلب (یعنې پرته له مشروع دلیل او رضایت څخه د تابعیت اخیستل) د بشري حقونو له جدي سرغړونو څخه شمېرل کېږي.

4. کاري مهاجرت:(Labor Migration)

کاري مهاجرت هغه بهیر ته ویل کېږي چې خلک له یوه هېواد نه بل هېواد ته (یا د یوه هېواد دننه له یوې سیمې نه بلې سیمې ته) د کار یا د عاید ترلاسه کولو په موخه کډه کوي.[31] دا ډول مهاجرت کېدای شي موقتي، موسمي یا دایمي وي، او مسلکي یا غیر مسلکي کارکوونکي، ښځې او سړي، د کار په بېلابېلو برخو کې شاملوي.

په نړیوالو قوانینو کې، دا ډول مهاجرت د ځانګړو چوکاټونو لاندې تنظیم شوی، [32] لکه د بشر حقونه، د کار حقونه، او د مهاجرت حقونه. د نړیوال کار سازمان (ILO) په اسنادو کې راغلي دي چې:

(مهاجر کارکوونکي باید د کورنیو وګړو په څېر د مساوي کاري حقونو خاوندان وي)، او همدارنګه:(هغوی باید د جبري کار، تبعیض او استثمار ښکار نه شي).

5. تحصیلي مهاجرت:(Educational Migration)

دا یو موقتي مهاجرت دی چې زده‌کوونکي د زده‌کړې یا تحصیل لپاره بل هېواد ته سفر کوي. [33] دا ډول مهاجرت کېدای شي د فرد شخصي تصمیم وي، یا دا چې په خپل هېواد کې د زده‌کړې مناسب شرایط نه وي برابر[34] .

---

[28]. د کیمبریج انګلیسي لغتنامه :Emigration (کډوال کېدل)

[29]. د کیمبریج انګلیسي لغتنامه :Emigration (کډوال کېدل)

[30]. Law Dictionary (تور قانوني لغتنامه)، یوولسم چاپ ۲۰۱۹م.

[31]. د افغانستان د عدلیې وزارت رسمي جریده، مسلسل نمبر ۷۶۴، کال ۲۹ حوت ۱۳۷۰ هجري شمسي.

[32]. https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/international-convention-protection-rights-all-migrant-workers)

[33]. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) او د نړیوال خوندي، منظم، هدفمند او قانوني مهاجرت نړیوال تړون (GCM) تعریفونه.

6. د کورنۍ یوځای کېدل:(Family Reunification)

دې ته ویل کېږي چې د یو مهاجر یا پناه‌اخیستونکي د کورنۍ غړي حق لري له هغه سره د استوګنې په هېواد کې یوځای شي.

دا مفهوم د نړیوالو بشري حقونو یوه مهمه برخه ګڼل کېږي، او د ډېرو هېوادونو د مهاجرت په قوانینو کې ځای لري [35]. یعنې په پناه غوښتنې کې، د کورنۍ د یوځای کېدو حق د پناه اخیستونکو لپاره یو پېژندل شوی اصل دی[36] .

7. د پانګونې یا سوداګریز مهاجرت:(Investor/Business Migration)

دا هغه ډول مهاجرت ته ویل کېږي چې پکې یو فرد یا د هغه کورنۍ د اقتصادي پانګونې یا د قانوني کاروبار د پیلولو په هدف بل هېواد ته کډه کوي.

دا ډول مهاجرت معمولاً د کوربه هېواد د ځانګړیو وګړو استوګنې یا تابعیت د پروګرامونو له لارې تنظیمېږي، چې پکې پانګونه د اقامت یا تابعیت اصلي شرط ګڼل کېږي.

د دې ډول مهاجرت لامل کېدای شي د افرادو شخصي تصمیم وي، یا دا چې د دوی په اصلي هېواد کې ناوړه اقتصادي، امنیتي یا ټولنیز وضعیت هغوی دې ته وهڅوي چې د ژوند ښه فرصتونه په بله خاوره کې ولټوي[37] .

خو یوه مهمه موضوع دا ده چې دا ډول مهاجرت باید د پیسو مینځلو( money laundering)یا ورته ناقانونه اعمالو لپاره ونه کارول شي. دا ډول کړنې له قانوني پلوه د ملاتړ وړ نه دي، او د نړیوالو اصولو له مخې ردېږي.

**پناه غوښتنه او د هغه اړوند اصطلاحات**

1. پناه غوښتنه:(Asylum Seeking)

دا هغه پروسه ده چې د کډوالۍ نړیوالې اداري او مهاجرې هېوادونو یې رسمي تعریف او تشریح کړې ده، کوم چې پکې یو شخص د خپل هېواد د خطر او تهدید له امله له بل هېواد څخه رسمي مرسته او پناه غواړي[38] .

2. پناه غوښتونکۍ:(Asylum Seeker)

هغه څوک دی چې په رسمي ډول له نړیوالو ادارو یا یوه بل هېواد څخه د پناه غوښتنه کوي، هغه په خپل غوښتنلیک کې ادعا کوي چې په خپل هېواد کې د شکنجې، ځورونې یا جدي ګواښ سره مخ دی.

3. پناه اخستونکې:(Refugee)

پناه اخستونکې هغه څوک دی چې د خپل نژاد، مذهب، تابعیت، ځانګړې ټولنیزې ډلې غړیتوب یا سیاسي باورونو له امله د جدي آزار او ځورونې د وېرې له امله په خپل هېواد کې نه پاتې کېږي او بهرنۍ هېواد ته پناه وړې وي. دغه شخص د خپل اصلي هېواد له ملاتړ څخه محروم وي او ځان د بل هېواد د قانوني پناه غوښتونکي په توګه ګڼې [39] .

---

[34]. د یونسکو لغتنامه په دې اړه ورته تعریف وړاندې کړی دی(https://www.unesco.org/en/glossary/migration) .

[35]. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۱م کال تعدیل شوی تعریف.

[36]. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون د پناهندګۍ په اړه او د UNHCR لارښوونې، په دې برخه کې ځانګړې تعریفونه.

[37]. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۱م کال تعدیل او د اقتصادي همکارۍ او پرمختګ سازمان (OECD) د مهاجرت د اسانولو او استقبال په برخه کې مطالعات.

[38]. د ملګرو ملتونو د پناهندګۍ چارو اداره :(UNHCR) پناه غوښتونکی هغه څوک دی چې د پناهندګۍ غوښتنه یې لا نه ده وکتل شوې؛ هر پناه غوښتونکی نه شي کېدای پناهنده، خو هر پناهنده پیل کې پناه غوښتونکی و.

[39]. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون ماده اول بند اول کې دغه تعریف وړاندې شوی دی.

4. موقتي ملاتړ شوي کسان:(Temporary Protected Persons)

هغه کسان دي چې د بیړنیو حالاتو لکه جګړه، بشري کړکیچونو یا طبیعي افتونو له امله خپلو هېوادونو ته بېرته نه شي ګرځېدلی او کوربه هېواد ورته د لنډ مهاله استوګنې اجازه او ملاتړ ورکوي، خو دا ملاتړ رسمي پناهندګي نه ګڼل کېږي[40] .

دغه موقتي ملاتړ معمولاً د محدود وخت لپاره او د ځانګړو شرایطو لاندې ورکول کېږي، چې ښايي پکې د ټولنيزو خدماتو او بنسټيزو حقونو لاسرسی شامل وي، پرته له دې چې شخص رسمي پناهنده وپېژندل شي.

5. بې‌تابعیت کسان(Stateless Persons)

د افغانستان د تابعیت د قانون د دريیمې مادې په دويم بند کې دا اصطلاح د "خارجی" تعریف لاندې راغلې ده چې مفاهیم يې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان دولت تابعیت: د افغانستان د دولت سره د یو شخص سیاسي او حقوقي تړاو .
- خارجی: هغه شخص چې د افغانستان تابعیت نلري او یا بې‌تابعیته وي.
- تابعیت ترلاسه کول: هغه عمل چې یو څوک غواړي د افغانستان تابعیت ترلاسه کړي.
- تابعیت له لاسه ورکول: د افغانستان تابعیت پرېښودل یا سلب کول.

له دې مادې څخه څرګندېږي چې څوک چې د بل هېواد تابعیت لري خو د افغانستان تابعیت نه لري، هغه "خارجی" بلل کېږي. همدارنګه، که یو څوک د هیڅ هېواد تابعیت ونه لري (بې‌تابعیت وي)، هغه هم "خارجی" ګڼل کېږي، که په افغانستان کې ژوند کوي او یا بهر کې.

6. تبعید(Exile)

تبعید هغه حالت ته ویل کېږي چې په کې یو مجرم ته ځانګړې سزا ورکول کېږي، يعنې هغه مجرم ته په خپل هېواد یا د اوسېدو په ځای کې د ژوند حق نه ورکول کېږي او د هغه پاتې کېدل په هېواد یا ځای کې جرم ګڼل کېږي. دا سزا کېدای شي د تابعیت د سلبېدو سره وي یا پرته له تابعیت سلبېدو وي، خو په دواړو حالاتو کې دغه مجرم له خپل اصلي ځای څخه وشړل شي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۱۳۸۲ کال د ۲۸مې مادې دویم بند په دې اړه په واضح ډول وایي:

»هیڅ افغان ته د تابعیت سلب یا تبعید په داخل او یا بهر افغانستان سزا نه ورکول کېږي«.

7. سلب تابعیت(Denaturalization)

سلب تابعیت هغه حالت ته ویل کېږي چې یو شخص د قانوني او سیاسي دلایلو له مخې خپله تابعیت له لاسه ورکوي، یا جبراً يې تابعیت اخېستل کېږي او د هغه تابعیت ختمیږي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۱۳۸۲ کال د ۲۸مې مادې دویم بند کې په واضح ډول راغلي:

«هیڅ افغان ته د تابعیت سلب یا تبعید په داخل او یا بهر افغانستان سزا نه ورکول کېږي.»

خو د افغانستان د تابعیت د قانون ۳۱مه ماده بیا وایي:

تابعیت په لاندې مواردو کې سلب کېدای شي:

---

[40]. د ملګرو ملتونو د پناهندګی اداري (UNHCR) له خوا هم دغه تعریف ورکړل شوی دی.

۱ .د وطن او خلکو پر وړاندې د جرم یا خیانت په صورت کې
۲ .د هغو دولتي وسله والو ځواکونو کې خدمت کول چې له افغانستان سره په جګړه وي.

سره له دې چې د اساسي قانون او د تابعیت قانون په دې برخه کې ځینې تضادونه او اختلافات شته، خو د مفهوم له مخې دا دوه کلمې ځانګړې او بېل مفهوم لري چې په ذهن کې یې ځانګړې معنا رامنځته کېږي.

8.عودت کوونکي(Returnees)

عودت کوونکي هغه کسان دي چې له مهاجرت یا پناهندګۍ وروسته، له بل هېواد څخه بیرته خپل هېواد ته راګرځي. دغه خلک کیدای شي د قانوني یا غیر قانوني دلایلو له مخې، او د اقتصادي او ټولنیزو شرایطو په نظر کې نیولو سره خپل هېواد ته د راستنېدو پریکړه وکړي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۳۹مې مادې دې موضوع ته په لاندې ډول اشاره شوې:

لومړې بند: هر افغان حق لري چې د هېواد هرې برخې ته سفر وکړي او په کې واوسیږي، پرته له هغو سیمو چې قانوني محدودیت لري.

دوېم بند: هر افغان حق لري چې د قانون له مخې له افغانستان څخه بهر ته سفر وکړي او بیرته راستون شي.

درېم بند: دولت د افغان اتباعو حقونه په بهر کې ساتي او محافظت کوي.

له دې موادو څخه ښکاري چې دولت د عودت کوونکو هرکلی کوي، که داخلي بې‌ځایه شوي وي ، او که له بهر څخه راستانه شوي وي، او دا چې راستنېدل قانوني وي یا غیر قانوني، دولت د هغوی ملاتړ کوي.

1. بې‌ځایه شوي یا داخلي بې‌ځایه شوي کسان:(Displacement / Internally Displaced Persons - IDPs)

دا هغه کسان یا ډلې دي چې په زور یا ناچار له خپلو کورونو او عادي استوګنې ځایونو کډه شوي وي، معمولاً د جګړې، پراخې تاوتریخوالي، د بشر د حقونو د سرغړونو، یا نورو ستونزو له امله. دا کسان د هېواد دننه پاتې شوي وي او له نړیوالو سرحدونو نه وي تیر شوي.[41] په بل عبارت، دا ډول کوچ کول غیر ارادي، جبري، یا د ځورونې له کبله وي[42] .

2. د پناهندګۍ حالت:(Refugee Status)

هغه حالت چې پناه غوښتونکي رسمي د پناهنده په توګه پېژندل کېږي.

3. بیا ځای پر ځای کول:(Resettlement)

هغه بهیر چې پناهنده یا بې‌ځایه شوي کسان د بل هېواد ته دایمي استوګنې لپاره انتقالیږي.

ډیاسپورا(Diaspora)

اصطلاحاً د قومي یا توکمي خپربدو او پراخېدو ته ویل کېږي، خو اصلاً د یهودیانو د پراخېدو لپاره کارول کېږي.

وتل(Exodus)

وتل د خلکو پراخه او ناڅاپي وتل یا کډه کولو ته ویل کېږي، چې اکثره د جګړې، ناورین یا نورو جدي ستونزو له امله وي.

---

[41]. UNHCR  دغه تعریف په دې ډول وړاندې کړی دی(https://emergency.unhcr.org/protection/legal-framework/idp-definition?utm_source=chatgpt.com) :

[42]. د افغانستان د مهاجرینو او عودت کونکو وزارت، د بې ځایه شوو لپاره ملي تګلاره، برخه ۲,۱ (تعریفونه)، مخ ۷.

**ج: د حقوقي تعبير له مخې د معاصرو مهاجرتونو او کډواليو ډولونه**

په حقوقي اصطلاح کې مهاجرت هغه عمل دی چې يو شخص يا يوه ډله د خپل اصلي استوګنې ځای يا د هېواد څخه وځي، څو په بل ځای يا هېواد کې د موقتي يا دايمي استوګنې لپاره ځای ونيسي، چې دا کار ممکن د داخلي او نړيوالو قوانينو د رعايت يا نقض په حال کې ترسره شي.[43]

**د: د داخلي او بهرني مهاجرت له مخې**

۱ .داخلي مهاجرت:(Internal Displacement)

دا هغه کسان يا ډلې دي چې په خپل هېواد کې د بېځايه کېدو له امله له اصلي استوګنې ځای څخه بل ځای ته کډه شوي وي. مخکې مو د بې ځايه شويو کسانو يادونه کړې وه. د ځينې کسان ګڼې چې داخلي بېځايه شوي کسان هم مهاجر ګڼل کېدای شي، خو په ډېرو مواردو کې دا اصطلاح د "بېځايه شويو" لپاره مناسب ده نه د مهاجرت لپاره.

۲ .بهرنی مهاجرت:(International Migration)

بهرنی مهاجرت هغه دی چې يو شخص يا ډله د خپل هېواد له ملي سرحدونو څخه تېرېږي او په بل هېواد کې موقتي يا دايمي استوګنه پيلوي. دا ډول مهاجرت د مبدأ هېواد، مقصد هېواد او نړيوالو تړونونو او کنوانسيونونو تابع وي چې د انسانانو د نقل و حرکت حقوق تنظيموي.

**ه: د رضا او جبر له مخې مهاجرت**

۱ .رضا کاره مهاجرت:(Voluntary Migration)

رضا کاره مهاجرت هغه دی چې په کې افراد په خپله خوښه، د شخصي پريکړې پر اساس، پرته له دې چې د جګړې، پراخې تاوتريخوالي، ځورونې، د بشر د حقونو سرغړونې يا طبيعي افتونو له مستقيم ګواښ يا مجبوريت سره مخ وي، له خپل اصلي استوګنې ځای څخه وځي او په بل ځای يا هېواد کې استوګنه کوي[44] .

۲ .جبري مهاجرت:(Forced Migration)

جبري مهاجرت هغه دی چې په کې افراد د بهرنيو فشارونو له امله، لکه جګړه، وسله والې شخړې، نظامي اشغال، پراخه بشري حقونو سرغړونې، ځورونې، سخت اقليمي بدلونونه يا طبيعي ناورينونه، اړ کېږي چې خپل اصلي استوګنې ځای پرېږدي[45] .

دا ډول مهاجرت کېدای شي يوازې د هېواد دننه وي) داخلي بېځايه کېدل (Internal Displacement/يا د هېوادونو ترمنځ د سرحدونو تېرېدو سره مل وي (پناهندګي/پناه غوښتنه).

د ۱۹۵۱ کال د ژنيو کنوانسيون د لومړۍ مادې پر اساس:

پناهنده هغه څوک دی چې د نژاد، مذهب، تابعيت، ځانګړې ټولنيزې ډلې غړيتوب يا سياسي عقيدې له امله د تعقيب جدي وېرې له کبله خپل هېواد پرېښی وي .

---

[43] . د ۱۹۵۱ کال د ژنيو کنوانسيون د بې ځايه شويو په اړه ځانګړي تعريفونه.

[44] . د نړيوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۹م کال نوی تعريف د شخصي خوښې پر بنسټ جابه‌جايي په اړه. (https://publications.iom.int/books/international-migration-law-ndeg34-glossary-migration)

[45] . . د ۱۹۵۱ کال د ژنيو کنوانسيون او د ۱۹۶۷ کال د هغې پروتوکول: (https://www.unhcr.org/1951-refugee-convention.html)

**و: د قانوني او غير قانوني مهاجرت له مخې**

۱ .قانوني مهاجرت:(Legal/Regular Migration)

قانوني مهاجرت هغه حرکت دی چې يو شخص يا يوه ډله د خپل اصلي هېواد نه د بل هېواد پر لور د هدف سره سم د هغه هېواد ملي قوانينو او د نړيوالو قوانينو د چوکاټ په اساس ترسره کوي. په دې ډول مهاجرت کې، کس د رسمي لارو چارو لکه ويزې اخيستل، د استوګنې جواز يا د کار اجازه نامه په ترلاسه کولو سره بل هېواد ته داخليږي. د دې شخص حقوق او مسؤليتونه د هغه هېواد د قانوني نظام له خوا خوندي کېږي.

۲.غير قانوني يا نامنظم مهاجرت:(Irregular/Undocumented Migration)

غير قانوني مهاجرت هغه دی چې خلک د هېواد د مهاجرت قوانينو يا د مبدأ او مقصد هېوادونو مقرراتو ته په پام نه کولو سره، پرته له رسمي جوازونو له يوې هېواده بل هېواد ته ځي، هلته پاتې کېږي، يا کار کوي.

دا ډول مهاجرت کېدای شي د غيرقانوني سرحدي تېرېدو، د سفر ي سندونو جعلي کولو، د ويزې د مودې څخه زيات پاتې کېدو، يا د کار جواز درلودلو پرته د کار کولو په بڼه وي.

دغه حالتونه په لاندې ډول دي:

- غيرقانوني سرحدي تېرېدل :(Illegal Border Crossing) بې ويزې، پاسپورټ يا قانوني اسنادو پرته هېواد ته ننوتل.
- غيرقانوني استوګنه :(Overstaying Visa) د ويزې د مهلت له پای ته رسېدو وروسته په يو هېواد کې پاتې کېدل.
- بې جوازه کار کول :(Undocumented Labor) په يو هېواد کې د کار اجازې درلودلو پرته کار کول.
- انساني قاچاق :(Human Trafficking) د زور او فريب په کارولو سره د خلکو جبري انتقال، چې معمولا د جنسي موخو يا کار اخستنې په هدف ترسره کېږي.
- قاچاقي مهاجرت :(Smuggling of Migrants) د سرحد له لارې د تېرېدو لپاره قاچاقچيانو ته پيسېورکول پرته له رسمي جواز څخه.

**ز: د وخت او مودې له مخې مهاجرت**

۱ .موقتي مهاجرت:(Temporary Migration)

دا هغه حرکت دی چې يو کس له هغه هېواد نه چې تابعيت يې نه لري يا هلته معمولا نه اوسيږي، د محدود وخت لپاره ترسره کوي، چې عموماً د کاري قرارداد، تحصيل يا نورو مشروع دلايلو له مخې وي. په يو هيواد کې دا ډول مهاجرت د دايمي استوګنې په مقصد نه ترسره کيږي[46] .

۲ .دايمي مهاجرت(Permanent Migration)

دايمي مهاجرت هغه حرکت دی چې يو کس هغه هېواد ته چې تابعيت يې نه لري يا هلته معمولا نه اوسيږي، د دايمي استوګنې په هدف هلته ځي .

**ح: د هدف له مخې**

۱ .کاري مهاجرت:(Labor Migration)

[46]. د نړيوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۹م کال لغتنامه کې دغه تعريفونه شتون لري: (-https://publications.iom.int/books/international-migration-law-ndeg34 glossary-migration)

کاري مهاجرت هغه دی چې د ځانګړو مسلکونو یا عمومي آزاد کار لپاره ترسره کېږي. دا ډول مهاجرت اکثره د اقتصادي او معیشي ستونزو له کبله وي. البته معمولا باید په قانوني توګه تر سره شي.

۲ .تعلیمي مهاجرت:(Educational Migration)

تعلیمي مهاجرت هغه دی چې یو شخص له خپل اصلي استوګنې ځای څخه بل هېواد یا سیمه ته د زده‌کړې، ښوونې یا رسمي تعلیمي پروګرامونو کې د ګډون لپاره ځي. دا ډول مهاجرت معمولا د زده‌کړې ویزې یا د محصل جواز په ترلاسه کولو سره ترسره کېږي او د زده‌کړې مودې پورې محدود وي.

۳ .خانداني مهاجرت:(Family-based Migration)

خانداني مهاجرت هغه دی چې یو کس یا ډله له خپل اصلي استوګنې ځای څخه بل هېواد ته ځي، د دې موخه د کورنۍ غړو (لکه مېړه/ښځه، والدین، ماشومان یا نور نېږدې خپلوان) سره یوځای کېدل وي چې مخکې په قانوني توګه په یو هېواد کې استوګن شوي وي.

دا ډول مهاجرت اکثراً د «خانداني یوځای کېدو» په نوم پېژندل کېږي او د بشري حقونو په نظام کې یو منل شوی حق دی. مثلاً د بشري حقونو نړیوال اعلامیه په ۱٦مه ماده کې دا حق د انسان د اساسي حقونو له جملې ګڼي چې باید انسانان له خپلو کورنیو سره ژوند وکړي.

۴ .سرمایه‌ګذاري مهاجرت:(Investment Migration)

سرمایه‌ګذاري مهاجرت هغه دی چې افراد د اقتصادي پانګونې لپاره بل هېواد ته ځي، چې په مقابل کې معمولا موقتي یا دایمي استوګنه تر لاسه کوي او کله کله تابعیت ورته هم ورکول کېږي. دا ډول مهاجرت د کوربه هېواد لپاره د بهرنیو پانګونو جذبولو او اقتصادي پرمختګ یوه وسیله ګڼل کېږي[47] .

**ک: د فردي او ډلیز مهاجرت له مخې**

۱ .فردي مهاجرت:(Individual Migration)

فردي مهاجرت هغه حالت دی چې یو کس یوازې او بې له دې چې د خپلې کورنۍ کوم غړي ورسره ملګری وي، سفر کوي او مهاجرت کوي. هر ډول مهاجرت چې وي او هر ځای ته چې وي، دا ډول ته فردي مهاجرت ویل کېږي.

۲ .ډلیز یا جمعي مهاجرت:(Group or Mass Migration)

ډلیز مهاجرت هغه دی چې په کې د پام وړ شمېر خلک یا کورنۍ په یوه وخت کې او په همغږي سره له یوې سیمې یا هېواد څخه بلې سیمې یا هېواد ته مهاجرت کوي. دغه ډول مهاجرت کېدای شي د ګډو اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي یا بشردوستانه لاملونو له امله وي. معمولاً دا ډول مهاجرت د پلان او سازماندهي لاندې وي، او کېدای شي د دولتونو یا نړیوالو سازمانونو ملاتړ ولري.[48]

۳ .قومي او لوی کډوالي (کوچ) / وتل (Exodus) او پراختیا:(Diaspora)

[47]. یاد شوی پورته PDF د ۲۰۱۹م کال د نړیوال مهاجرت سازمان لخوا بیاخلي وړاندې شوی دی.

[48]. د ملګرو ملتونو په اړه د کور دننه بې ځایه شویو (IDPs)۱۹۹۸م کال تعریف چې اکثراً د کړکیچونو او تاوتریخوالي په شرایطو کې واقع کیږي.
https://www.unhcr.org/protection/idps/43ce1cff2/guiding-principles-internal-displacement.html)

- Exodusهغه اصطلاح ده چې په پراخه کچه، ناڅاپي او جبري کوچ ته اشاره کوي؛ یعنې د یوې سیمې د خلکو یوه لویه ډله په لنډ وخت کې د خطر، ظلم یا سخت بحران له کبله وتښتي.
- Diasporaهغه پراخه، اوږدمهاله او تاریخي خپرېدل دي چې د یو ملت یا قوم خلک په ټوله نړۍ کې ویشل شوي وي، خو بیا هم خپل قومي، کلتوري او تاریخي هویت ساتي. لکه د یهودانو پراخه ډیاسپورا.
- دا اصطلاح په اصل کې د یهودانو لپاره کارېدله، خو وروسته د مهاجرت یوې ځانګړې بڼې ته عمومي نوم وګرځېد.
- کلمه Diaspora د لرغوني یوناني ژبې (διασπορά) نه اخیستل شوې ده، چې له دوو برخو څخه جوړه ده:
    - o (διά / dia)معنی "له لارې" یا "ټول ټال"
    - o (σπορά / spora)معنی "تخم اچول" یا "خورول" چې له ریښې (σπείρω / speirō) څخه راځي چې معنی یې "کرل" یا "بذر خورول" دی.
- په اصل کې دا کلمه د "تخم خپرېدل" معنا ورکوي، چې وروسته په مذهبي او تاریخي متونو کې د یهودانو د خپرېدو لپاره کارول شوې، په ځانګړې توګه د بابل له تبعید وروسته (پنځمه پېړۍ له میلاد څخه مخکې)[49].

**م:اقلیمي مهاجرت:(Climate Migration)**

دا هغه مهاجرت دی چې د هوا د بدلونونو، طبیعي سرچینو له منځه تلو او نورو چاپیریالي عواملو له امله خلک اړ کېږي چې له خپل ځایه کډه وکړي.

**ن:بحران‌محوره مهاجرت:(Crisis Migration)**

داسې پراخه او بېړنۍ کډه چې د طبیعي ناورینونو، جګړو، ناروغیو یا سیاسي بې‌ثباتۍ له امله رامنځته کېږي.

**دریم مطلب**

**د اصطلاحي هجرت او معاصرې ګډوالۍ او هجرتونو تر منځ مشابهتونه توپیرونه**

مخکې مو اشاره وکړه چې شرعي هجرت او معاصره کډوالي که څه هم د حقیقت او څرنګوالي په اعتبار یو له بل سره جلا او متفاوت دي، خو بیا هم یو لړ مشابهتونه او ورته والې لري دلته په لنډو ټکو کې ورته اشاره کوو :

**مشابهتونه:**

- دواړه پدیدې د خلکو له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د تللو سره تړاو لري.
- په دواړو کې د خلکو د ژوند او بقا لپاره د ناوړه شرایطو څخه د خلاصون یا پناه اخیستلو هڅه شتون لري.
- په دواړه پدیدو کې وګړي له فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي اغېزو سره مخامخ کېږي.

**توپیرونه:**

- په هجرت کې وګړي د دیني او معنوي ارزښتونو لپاره خپل کورونه او ټاټوبې پرېږدي، په داسې حال کې چې معاصر کډوالي عموما د اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي ستونزو له امله رامنځته کېږي.
- هجرت د دیني ملحوظاتو له امله ترسره کیږي، په داسې حال کې چې معاصر کډوالي اکثر د جګړو، نړیوالو کړکیچونو، د کار او ژوند شرایطو د خرابېدو، او د اقلیمي بدلونونو له امله وي.

[49]. په دې لغت پېژندنه کې د "Diaspora" دقیق تاریخي او ژبنې ریشه یابې شوې ده: https://www.merriam-webster.com/dictionary/diaspora)

- اسلامي تاريخ ته په کتو هجرت عموماً د يوې ځانګړې ټولنې د جوړولو او تاسيس لپاره ترسره کېږي، خو معاصره کډوالي د نړيوالو قوانينو، د مهاجرت او پناه غوښتنې پر اساس رامنځته کېږي.

**د څېړنې لنډې پايلې**

۱. د هجرت تعريف:

هجرت په لغت کې د پرېښودو او شا اړولو معنا لري. په شرعي اصطلاح کې له دار الکفر څخه دارالاسلام ته کډه کولو ته هجرت ويل کيږي. د رسول الله ﷺ مبارک هجرت يې يوه روښانه تاريخي بېلګه ده.

۲. هجرت د انبياوو عليهم السلام يوه مهمه دعوتي ستراتيژي:

هجرت د دين د خپرولو او د ظلم څخه د خلاصون يوه مهمه وسيله ګڼل کيږي، لکه د حضرت ابراهيم او حضرت موسی عليهما السلام او نور انبياو عليهم السلام هجرتونه.

۳. د هجرت دوه ډولونه:

معنوي هجرت: د ګناهونو پرېښودل او له بدو کارونو ځان ساتل.

فزيکي هجرت: له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته د دين په خاطر کډه کول.

۴. کډوالي – يوه پېچلې موضوع:

په نننۍ نړۍ کې کډوالي يوه پېچلې قضيه ده بېلابېلې بڼې او ډولونه لري(چې په ليکنه کې ورته تفصيلی اشاره شوی ده) ډېر حقوقي، اقتصادي او سياسي اړخونه لري.

۵. شرعي هجرت او معاصره کډوالي:

دواړه د ناوړه شرايطو څخه د خلاصون لپاره ترسره کېږي.شرعي هجرت د دين د ساتنې لپاره وي، البته معاصره کډوالي ډېری وخت اقتصادي ، امنيتي او سياسي بڼه لري.

شرعي هجرت د اسلامي ټولنې د جوړولو يوه مهمه وسيله ګڼل کيږي، او معاصره کډوالي بيا د نړيوالو قوانينو تابع وي.

په پای بايد عرض وکړم چې مهاجرين يا کډوال بايد په پوره زيرکتيا او د اوږد مهاله استراتيژيو په درلودلو سره دا موضوع په سمه توګه مديريت کړي ترڅو د کډوالۍ د اغېزو مثبت اړخونه زيات او منفي اړخونه کم شي.

**اخذليکونه:**

1. لسان العرب د علامه محمد بن مكرم ، أبو الفضل، ابن منظور الأنصاري (ت ٧١١هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار صادر - بيروت
چاپ وار: دريم - ١٤١٤ هـ

2. تاج العروس من جواهر القاموس، د علامه محمّد مرتضى الحسيني زبيدي ليکنه، چاپ ځای: وزارة الإرشاد والأنباء في الكويت (١٤٢٢ هـ)

3. مفاتيح الغيب د امام فخرالدين رازي (ت ٦٠٦هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار إحياء التراث العربي – بيروت- چاپ وار: دريم - ١٤٢٠ هـ

4. التعريفات للجرجاني د علامه علي بن محمد الشريف جرجاني (ت ٨١٦هـ) ليکنه، چاپ ځای: دار الكتب العلمية بيروت -لبنان چاپ وار: لومړی ١٤٠٣هـ-١٩٨٣م .

5. الموسوعة الفقهية الكويتية ، چاپ کوونکي اداره: وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت د چاپ کال (١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ)

6. صحيح بخاري د امام أبو عبد الله محمد بن إسماعيل البخاري (ت ٢٥٦ هـ) ليکنه، چاپ ځای: دار التأصيل – القاهرة.

7. صحيح مسلم د امام أبو الحسين مسلم بن الحجاج النيسابوري (٢٠٦ - ٢٦١ هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار إحياء التراث العربي ببيروت.

8. سنن أبي داود د امام أبو داود سليمان بن الأشعث الأزدي السجستاني (٢٠٢ - ٢٧٥ هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار الرسالة العالمية

9. سنن النسائي د امام أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب النسائي (ت ٣٠٣ هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار الرسالة العالمية چاپ وار: لومړی ١٤٣٩ هـ - ٢٠١٨ م

10. تفسير القرآن العظيم .د امام أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير الدمشقي (٧٠٠ - ٧٧٤ هـ) ليکنه، چاپ ځای: دار طيبة للنشر والتوزيع، الرياض – چاپ وار: دوم، ١٤٢٠ هـ - ١٩٩٩ م .

11. جامع البيان عن تأويل آي القرآن د امام أبو جعفر، محمد بن جرير الطبري (٢٢٤ - ٣١٠هـ) ليکنه، چاپ ځای: دار التربية والتراث - مكة المكرمة .

12. البداية والنهاية د امام ابن کثير ليکنه، چاپ ځای:دار المعرفة للطباعة والنشر والتوزيع بيروت – لبنان، چاپ کال: 1395هـ- 1976م

13. السيرة النبوية د علامه ابن هشام ليکنه، چاپ ځای: شركة الطباعة الفنية المتحدة.

14. الروض الأنف في شرح السيرة النبوية د علامه أبو القاسم عبد الرحمن بن عبد الله بن أحمد السهيلي (ت ٥٨١هـ) ليکنه، چاپ ځای:دار إحياء التراث العربي، بيروتچاپ وار: لومړی ١٤٢١هـ/ ٢٠٠٠م.

15. د کيمبريج انګليسي لغتنامه) Immigration :کډوالی(

16. د کيمبريج انګليسي لغتنامه) Emigration :کډوالېدل(

1. Black's Law Dictionary(تور قانوني لغتنامه)، يوولسمه چاپ ٢٠١٩م.

17. د افغانستان د عدليې وزارت رسمي جريده، مسلسل نمبر ٧٦۴، کال ٢٩ حوت ١٣٧٠ هجري شمسي.

18. د نړيوال کنوانسيون د ټولو مهاجر کارکوونکو او د هغوی د کورنۍ د غړو د حقوقو د ساتنې، ماده لومړی بند دويم، کال ١٩٩٠م (https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/international-convention-protection-rights-all-migrant-workers) .

19. د نړیوال کاري سازمان (ILO) د مهاجرت په اړه لغتنامه (https://www.ilo.org/topics-and-sectors/labour-migration) :
20. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) او د نړیوال خوندي، منظم، هدفمند او قانوني مهاجرت نړیوال تړون (GCM) تعریفونه.
21. د یونسکو لغتنامه په دې اړه ورته تعریف وړاندې کړی دی(https://www.unesco.org/en/glossary/migration) .
22. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۱م کال تعدیل شوی تعریف.
23. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون د پناهندګۍ په اړه او د UNHCR لارښوونې، په دې برخه کې ځانګړې تعریفونه.
24. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۱م کال تعدیل او د اقتصادي همکارۍ او پرمختګ سازمان (OECD) د مهاجرت د اسانولو او استقبال په برخه کې مطالعات.
25. د ملګرو ملتونو د پناهندګۍ چارو اداره (UNHCR): پناه غوښتونکی هغه څوک دی چې د پناهندګۍ غوښتنه یې لا نه ده وکتل شوې؛ هر پناه غوښتونکی نه شي کیدای پناهنده، خو هر پناهنده پیل کې پناه غوښتونکی و.
26. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون ماده اول بند اول کې دغه تعریف وړاندې شوی دی.
27. د ملګرو ملتونو د پناهندګۍ اداري (UNHCR) له خوا هم دغه تعریف ورکړل شوی دی.
    a. UNHCRدغه تعریف په دې ډول وړاندې کړی دی (https://emergency.unhcr.org/protection/legal-framework/idp-definition?utm_source=chatgpt.com) :
28. د افغانستان د مهاجرینو او عودت کونکو وزارت، د بې ځایه شوو لپاره ملي تګلاره، برخه ۲,۱ (تعریفونه)، مخ ۷.
29. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون د بې ځایه شویو په اړه ځانګړې تعریفونه.
30. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۹م کال نوی تعریف د شخصي خوښې پر بنسټ جابه‌جایي په اړه . (https://publications.iom.int/books/international-migration-law-ndeg34-glossary-migration)
31. د ۱۹۵۱ کال د ژنیو کنوانسیون او د ۱۹۶۷ کال د هغې پروتوکول (https://www.unhcr.org/1951-refugee-convention.html) :
32. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۹م کال لغتنامه کې دغه تعریفونه شتون لري : (https://publications.iom.int/books/international-migration-law-ndeg34-glossary-migration)
33. د نړیوال مهاجرت سازمان (IOM) د ۲۰۱۹م کال PDF نسخه : (https://publications.iom.int/system/files/pdf/IML_34_Glossary.pdf)
34. یاد شوی پورته PDF د ۲۰۱۹م کال د نړیوال مهاجرت سازمان لخوا بیاځلي وړاندې شوی دی.
35. د ملګرو ملتونو په اړه د کور دننه بې ځایه شویو (IDPs) ۱۹۹۸م کال تعریف چې اکثراً د کړکیچونو او ناوتریخوالي په شرایطو کې واقع کیږي (https://www.unhcr.org/protection/idps/43ce1cff2/guiding-principles-internal-displacement.html) .
36. په دې لغت پېژندنه کې د "Diaspora" دقیق تاریخي او ژبني ریشه یابي شوې ده (https://www.merriam-webster.com/dictionary/diaspora) :
37. په اروپا،امریکا،کاناډا،ترکیا،پاکستان،ایران او هندوستان کې د ځینو کډوالو څخه ترلاسه شوي معلوماتونه

38. له بېلابېلو انټرنټي سايټونو څخه استفاده لکه: https://www.iom.int د مهاجرت د نړيوال سازمان ( (IOM)
International Organization for Migration